

# Crash Dynamics
## (د ټکر اغېزي او قواوی)

## د مناسبې موټر څوکۍ کارول مهم دي

**Crash Dynamics (د ټکر اغېزي او ځواکونه) هغه قواوی او انرژي ده چې د موټر د ټکر پر مهال رامنځته کېږي.**

د موټر څوکۍ د ټپي کېدو په مخنیوي کې مرسته کوي. د ماشوم د موټر خوندیتوب څوکۍ د ټکر قواوی جذبوي او پاتې اغېز د ماشوم په بدن کې په لا مساوي ډول وېشي.

خپل ماشوم د هغه د عمر، قد او وزن سره سم د مناسبې او په سمه توګه نصب شوې د موټر خوندیتوب څوکۍ په کارولو سره خوندي وساتئ.

NEW YORK STATE | Department of Health

# د موټر د خوندیتوب څوکیو ډولونه



د شا پر طرف مخ گرځنده څوکۍ د ټکر څواک د ماشوم په ټول بدن باندې د وېشلو له لارې د سر، غاړې او ملا د ساتنې په مرسته د ټپي کېدو خطر کموي.




مخ په پرورانډې د ماشوم موټر څوکۍ د ټکر څواک د ماشوم په بدن باندې وېشي او په عین حال کې ماشوم په خوندي توګه د موټر په څوکۍ کې ساتي. د ټیټر (پورتني ترونکي تسمې) کارول د ماشوم د سر مخ ته د زیات حرکت مخه نیسي.



بوسټر څوکۍ ماشوم لوړوي او په مناسب حالت کې یې کېنوي ترڅو د کمر او اوږې سیټ بېلټ په سمه توګه د ماشوم پر ورنونو او سینه برابر شي.



سیټ بېلټونه د ټکر په صورت کې سپرلی د موټر په څوکۍ کې خوندي ساتي. سیټ بېلټ د ورنونو او سینې پر سر په سمه توګه ټړل کېږي.

## په سمه توګه نصب شوې د ماشوم موټر څوکۍ کې د خپل ماشوم ترل د ټکر پر مهال د ژوندي پاتې کېدو چانس زیاتوي.

- د ماشوم موټر څوکۍ د ټکر اغېز کموي، نه دا چې ماشوم په ناځاپي ډول سمدستي ودروي.
- د ماشوم موټر څوکۍ د ټکر قواوې د ماشوم د بدن پر لویه برخه وېشي، په داسې حال کې چې ماشوم په خوندي ډول په خپله څوکۍ کې ساتي.
- د ماشوم موټر څوکۍ د ماشوم سر د بدن له کرښې سره سم ساتي او د غاړې ساتنه یې کوي.

# د ټکر پړاوونه

## لومړی پړاو: د موټر ټکر

دا هغه وخت رامنځته کېږي کله چې موټر له یوه شي سره ټکر وکړي او د ټکر د څواک له امله د موټر بدنه تاو، کړه یا زیانمنه شي.



## دوهم پړاو: د انسان د بدن ټکر

دا هغه وخت رامنځته کېږي کله چې موټر ودرېږي، خو د انسان بدن د موټر په اصلي سرعت حرکت ته دوام ورکړي.





## دریم پړاو: د بدن د داخلي غړو ټکر

هغه وخت رامنځته کېږي کله چې بدن په بشپړه توګه ودرېږي، خو داخلي غړي لا هم په حرکت کې وي. دا پړاو ډېری وخت د جدي یا مرګوني ټپونو لامل ګرځي.

# د موټر دننه د نه ترل شوو سپرلیو او ازادو شیانو د ټکر مخه نیسي.

- په موټر کې ټول سپرلي باید سیټ بېلټ وتړي.
- د هر سفر لپاره د ماشوم موټر څوکۍ، بوسټر څوکۍ یا سیټ بېلټ وکاروئ.
- ازاد شیان د څوکۍ لاندې، د موټر په ډاله کی (ټرنک) یا دستاني بکس (ګلوف بکس) کې خوندي کېږدئ.
- ماشومان باید تر ۱۳ کلنۍ پورې د موټر په شا څوکۍ کې کېنول شي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د ماشوم داسې موټر څوکۍ کاروئ چې د متحده ایالاتو د خوندیتوب معیارونه پوره کوي.
- د ماشوم موټر څوکۍ د سم نصب لپاره د څوکۍ د جوړونکي لارښوونې او د موټر لارښود کتاب تعقیب کړئ.
- د دې QR کوډ څخه کار واخلئ ترڅو ستاسو د ماشوم موټر څوکۍ د د ماشوم د سپرلیو د خوندیتوب تصدیق شوي تخنیکر لخوا وکتل شي.



health.ny.gov/carseats

trafficsafety.ny.gov

د NYS Governor's Traffic Safety Committee(نیویارک ایالت د والي د ترافیک خوندیتوب کمیټې) په مرسته د National Highway Traffic Safety Administration (ملي لویې لارې د ترافیک خوندیتوب ادارې) لخوا تمویل شوی ده.

NEW YORK STATE | Department of Health